**ليکونکی** : مایا ایوانز (Maya Evans)

منبع اودخپریدو نیټه :کمان ډریم «12-10-2020» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

----------------------[100] ----------------------

# افغانستان: (19) کاله جګړه

## Afghanistan : (19) Years of War



افغان ماشومان په کابل کې د دارالامان ما نۍ په یوه بمي چاود نـی ، د عکسونو په نندارتون کې د څلور لسیزو افغانانو په جګړه او ظلم کې چي وژل شوي ، لوبې کوي. (عکس: مایا ایونز)

دا فغا نستا ن پرضد د امریکي د متحده ایالاتو اود (ناتو)
په ملاتړجنګ داکتوبر د میا شتي په (اومه) نیټه کا ل (2001)
یوائې د سپټمبر میا شتي د یولسمی نیټی څخه وروسته پیل شوي
په کوم کي چي ترټولوداسي انګیرل کیږي چي داجګړه د مینځني
ختیځ لپاره یوډول متمرکزسخته اوصاعقوی یا بریښنا یی چټکه
جګړه وی. متحده ایالات ددی جنګ له پیل څخه لاتراوسه چی
(19) کاله کیږي ،هڅه کوي چي خپل ځان دجنګونوپه تاریخ کي
ددی اوږد جنګ څخه اوباسی اوهغه داچي متحده ایالات د خپل
دری ګونی اصلی ټا کل شوی هد فونو له جملی څخه په دوه
هدفونوکی پوره ما تي خوړلي **یعنی د طا لبا نو په راپرځول اود**
**افغا نی ښځی په آزادولو کي** .اما یوائې هغه هد ف چي په پوره
ډاډ کیرني سره ترلاسه شوی هغه په کا ل(2012) کي د **بن**
**لادن** تروریاوژنه وه کوم چي هغه په پاکستان کي پټ شوی
وه. له بلی خواددي جګړي څخه را رسید لي ځا ني تاوان
(سل زره) افغا ن (3502) تنه د (ناتو) اود امریکي د پوځ
غړی وه چي خپل ژوند دلاسه ورکړل ، اوهمداشا ن داسی
اټکل شوي چي متحده ایالات تر دی دمه په دی جګړه کي
(822) ملیارده دالر په مصرف رسولي ، په داسی حال کي
چی دانګلستان دمقاماتوله خوا تردی دمه پوری ددی جګړی
دلګښتونو ټاکلی ونډه نه دی په ډاګه شوی یعنی چي هغه
هیواد دخپل مصرفاتو دونډی اندازه نه دي ښودلي اما بیاهم
په کال(2013) کی داسی انګیرل کیده چي هغه هیواد

ممکن (37) ملیارددالرپه مصرف رسولی وي .
د طا لبا نو،مجاهید ینو، افغا ن حکومت اود متحده ایالاتو داستا ذو ترمینځ دسولي خبری اتري کم تر کمه له تیرو نژدی دوو کلونو راهیسی سره پیل شوی کوم چي اوس په عمده توګه سره د قطر په دوحه ښا ر کي د مرکو اود مذاکراتوپه سرکي دزړو نا رینه مشرانو (رهبرانو) خبری دي یعنی دهغو ترمینځ کوم چي د (30) کالو په اوږدو کي یودبل دوژلو هڅه یی کړی اولا تر اوسه هڅه کوي ، په دي د ښمني کي طا لبا ن تقریباً یوڅه برلاسی یا تفوق لري او هغه داچي طالبان وروسته له (19) کالو جنګ جګړه کوم چي د(40) شتمن هیوادونوسره کړی، دوی اوس دهیواد لږ ترلږه دوه پردریمه برخه ترخپل ولکي لاندی لری اوداسی ادعاکوی چي هغوی لا ډیر بم چونکی دواطلب انتحاری اوخپل ځان وژنی دواطلبان لري اوپرته له هغه دوي یعنی طالبان په دي باندي بری شوچي خپل(5000 )زندانی شوی طالبان دامریکي سره په یو کړي معامله کي دا فغا نستا ن له بندی خانوڅخه آزاد کړي - دبلي خوا څخه په یاد مو باید اووسی چي دامریکي متحد ایالات سره له هغه قول او تعهد چي له ټولو نه دمخه په لمړي ځل کی به طالبانو ته ما تي ورکوي هیڅ پایلی ته ونه رسید اوطالبانو ددی اوږد لوبي په برخه کي ډاډه وه چی امریکایا نو بری ته نه رسیږي .

ډیری عادی افغانان اوس دسولی دغه روان بهیر ته لېږه هیله لری اومرکچیان په دي تورنوي چي هغوي خبرو ته چمتو نه دي – دکابل اوسیدونکی (21) «نعیمه» وایي: «خبری اتری یو ننداړتون دی ، افغا نان پوهیږي چي دا خلک له لسیزو راهیسی په جګړه کي ښکیل دي ، اما دوی یواځی هریو اوس دافغانستان دلاسته راوړو لپاره خپل مینځ کي سره په معامله کولولاس پوري کړي چی ددی هیواد ځواکمن پا تي شي ، کوم هسی چي متحده ایالات په رسمي بڼی سره وایی دهغه څه سره چي ترسره کیږي بلکل تفاوت او توپیر لري ،که چیری دوی وغواړي چي وجنګیږي نو دوی خواوس دغه جګړه پخپل واک کي لري او دسولي دراوستو په کار کي اصلاً علاقه اوزړه ګرمی نه لري ؟

«20» کلن **ایمشا** (Imsha) نامی چي هغه هم په کابل کي ژوند کوي داسی یادونه کوي : زه داسی نه انګیرم چي دا دسولي روان خبری اتري چي د دوحي په ښار کي دمرکچیانو په مینځ کي روانی دي دا خبری د سولی لپا ره وی ؟ مونږ دغه کسان په تیرو وختونو کي هم لرلی ! کوم چي دوی اصلاًدسولي درامینځته کیدولپاره لاره اوار ه نکړ او ددی مدعا روښانه بیلګه اوس په رڼو سترګو ګورو چي دمزاکراتو په وخت کی لاهم خلک په هیواد افغانستان کی وژل کیږي نو که چیري دوی دسولی دراوستو نیت ولری

نو لازم بريښي چي سمد ستي د جنګ جګړی څخه لاس واخلي او نورد خلکو وژنه ودروی ؟

دمد نی تېولنی ډ لی یا ګروپونه اود افغا نستا ن دځوانانو استاذي په دوحه کي ددی روان خبرو اترو بیلا بیلو پړاونو ته بلنه نه وه ورکړ شوی او یواځي په یوه غونډه کي دا فغا نستا ن د میرمنو یوه پلاوی ته بلنه ورکړ شوی وه ترڅوچي دتیرو (19) کالو دترلاسه شوی خپل حقونو څخه کوم چي په ډیر سختی سره ترلاسه کړي سا تنه وکړی که څه هم په کا ل (2001) کی پر افغانستان دیرغل په مها ل دامریکی اود «ناتو» له خوا دښځوخلاصون یا دځنی ناروا بندیزونو څخه آزادي یو له دریو اصلی اهدافو یا توجیها تو څخه وه . اما بیاهم دا موضوع دسولي دموافقی لپاره دخبرو اترو داجندا یوه مهم مثله نه وه بلکه دهغه پر ځای اصلی اند یښنی دا وه چی طا لبا ن با ید بیا هیڅکله د القاعدی دجنګیا لیو کوربه توب دی نه کوي؟- په دی خبرو اترو کي دطا لبا نو اود ا فغا نستا ن د دولت ترمینځ پر قدرت با ندي دویش موضوع اوربند با ندی دافغانستان ددولت له خوا ډیر ټینګار دي اما دلته یوه پوښتنی رامینځته کیږی او هغه دا چي ایا طالبانو په دوحه کی په دی خبرو اترو کی د افغانستا ن له سرتاسراوپه پاکستان کی دټولو میشتوو طالبانو داستاذیتوب صلاحت لری اویا که نه ؟ حال داچی ډیری افغانان په دي

فکرکي دي چې دوی یعنی په دوحه کی دطالبانو مرکچیان اصلاً دتیولو طا لبا نو داستاذی توب جواز نه لری اوددوی سولی ته دخبروا ترو موضوع په اوتوماتیک بڼی سره غیر قانونی اوغیر مشروع دي.

تر دی د مه طا لبا نو موافقه کړی چي دافغان حکومتی پلاوی سره خبروته کښینی کوم چي دا پخپله یوه ژمنه کونکی یا تضمین کونکی نښی اونښا نـي دي لکه څنګه چی طا لبا نو لادمخه دا فغا ن حکومت د مشروعیت اودرسمی پیژندلوڅخه په کلکه ډ ده کوله اوداسی یی انګیرل چی دغه حکومت د متحده ایالاتویو لاسپوڅی او ګوډاګي دولت دي د بلی خواڅخه په دی خبرواترو کی اوربند دسولی دمعاملی د ترسره کید و لپاره دافغا نستا ن داستا ذ و له خوا لمړنی اوسره کرښه یاشرط دي کوم چی له بده مرغه داوربند دنه رامینځته کید و له امله هره ورځ ډیری ملکی افغانان خپل ژوند دلاسه ورکوی اود هغوی په کورونو با ندی د هری ورځی په تیرید وسره پراخ او بوربنونکی بریدونه تر سره کیږي .

په دي نژدی ورځو کی اولسمشر« ترامپ» په ډاګه کړي کوم چي هغه غواړی خپل امریکایی سرتیری له افغانستان څخه اوبا سي ، که څه هم د دی احتما ل شتون لری چي امریکي په افغانستان کی خپل نظامیا ن په رامینځته کړی شوی نظامی اډو کی وسا تی اودافغانستا له معدنونو څخه

خپل ونډه دخپلو لوی شرکتونو په پانګونې سره تر لاسه کړي هغه څه کوم چي ددسمبر په میاشت کال (2017)کي داشرف غنی او د«ترامپ» په مینځ کی دامریکی پواسطه سره په افغانستان کی دکانونو دراخیږولواودکیندلو موضوع له بحثه وروسته سره جوړجا ړی ته رسیدلی وه اود امریکی اولسمشر **د غنی** وړاندیزونه د افغا نستا ن دکا نو د را کیند لو پر مسله با ندی کوم چی دامریکایی شرکتونو د کارپوها نو په واسطه سره ترسره شي تاییدی مهر لګولی وه ، دافغانستان کانونه دغه هیواد په نړي کي دخپل ګران قمیته زیرمی په لرلو سره دیو بالقوی په بڼی سره په یو شتمن اوغنی هیواد با ندی یی را اړولی یا تبد یل کړي دي اوهغه داچي په کا ل (2011) کی د پنتاګون اود امریکی د جیولوژیکي سازمان ګډه تفحصی څیړنه او مطالعه کوم چی دافغا نستا ن د معدنونو په برخه کي په ګډه سره ترسره شو داسي وښودل شوچي دغه نه لاس وهل شوی مینرالونو لکه سره زر ، مس ، اورانیوم ، کبالت ، زنک او........ .. دی چی دهغو مجموعی ارزش یا قیمت تر (یو تریلیون ) ډالر اټکل شوی دی ادا تصا دفی هم نه دی چی امریکی دغه مینرالونه ترلاسه نکړی لکه هغسی چی د سولی درامینځته کیدو لپا ره خپل د سولی استا ذی (ځلمی خلیل زاد) افغانستان ته لیږلی دی چی دامریکی ګټی تامین کړی

یعنی دامریکی د (RAND) شرکت پخواني مشا ور یعنی هغه کس چي دافغانستان څخه دګاز دپآ یپ لین دترانزیت موضو طرح کړی وه .
له بلی خواڅخه که څه هم «ترامپ» غواړي چی دهمدي کال تر پاي پوری له پاتي (12000) امریکا یی سرتیری څخه (4000) سرتیرو ته راکمه کړي خو دا احتمال تقریباً شتون نه لري چي متحده ایالات به دخپل پاتي(پنځه) پوځي اډو څخه کوم چي دافغانستان په دننه کي جوړ کړی اویا یي لری پښی سپکی کړي یا له دغو نظا می اډو څخه ووځي . اوداځکه چي متحده ایالاتو ته ددی نظامی آډو د شتونوالي ګټه او امتیاز په دي کي دي چی امریکا یا ن خپل حضور په افغانستان کی د چین هیواد په هم پولی یا ګاونډی هیواد کي ساتی چی چینا یا ن له نژدی څخه نظارت وکړي نو دهمدی دلیل له مخي غیر ممکن ښکا ری چي امریکایان بلکل له افغا نستا ن څخه ووځی یا دغه نظامي اډی خوشي کړي نوپه دي اساس دمتحده ایالاتولپاره ستراو اصلی چنې (bargaing) وهل یا داصلی معا ملی پلی کول دمرستی د بیرته ترلاسه کولو ګواښ اوهمدارنګه دبمونو دغورځوولو مسله ده ، «ترامپ» لا مخکی زیات تمایل لرل چي خپل ځواک یا زور نړیوالو ته وښیی لکه هغسی چی امریکایان په ننګرهار کی په کال (2017) د بمونو د مور په نوم غیر

هسته یی بم وغورځول او هغه هم په یو بی وزلی ملت باندی لکه په ا فغا نستا ن کی د«ترامپ» لپاره دلوی بمونو غورځول یا دهوایی بمبا ریو زیا تول یا تشد ید کول دهغی هغه احتمالی کړنه به وی چي که چیری دهغه خبري یا ترلاسه شوی پایلی دهغه په خوښه ونه اوسي اوددی احتمال هم ترسترګو کیږي چی دغه ډول اقدام د هغه داولسمشری کمپاین ته هم دفرهنګی جنګ په کرښوکی ترسره شي چي دسپین ناسیونالیزم سره ګډ نژاد پرستی یو ډول آسانه او یو ډول ورو متروکی وهل وي .

سره له دی چی ملګری ملتونودکرونا ویروس دقرنطین په جریان کي د نړیوال اوربند غوښتنه وکړه په افغا نستا ن کي جګړه بیا لا هم دوام لري کوم چي دا ناروغي دفبروری میاشت کي (39693) کسان په نا روغی اخته او (1472) تن یی ووژل نو په دغه څلور لسیزه روانه جګړه کي دافغا نستا ن زیا ت روغتیایی مرکزونو له مینځه تللی اویا بلکل وران او ویجاړ شوی او دا فغا نستا ن د خلکو لاس رسی طبی اسانتیا و ته غیرممکن کړی نوله همدی کبله د دی ویروس شیوع او ویرولانس په دغه هیواد کي ډیر زیات دي کوم چي طالبانوددی ناروغی د راتګ په اړین داسی اعلامیه خپور کړ « دغه ناروغي دانسانی ظلم لپاره دخدای عذاب اودانسان دصبر ازمایښت بولی» .
په افغانستان کي د (4) ملیونو خلکو داخلی بی ځایه کیدو

سره او په تم ځایونو یا په کمپونو کي د ژوند د ناوړی اودنابرابر شرایطو په موجودیت سره کوم چي هلته یعنی په ختېنیو کوڅو کی کورونه او په یوه کوټه کي (آته) کسه ژوند کوی چیری چي هلته نه دڅښلو صحی اوبه شته اونه هم کافی اندازه سره اوبه چي لاس پریمنځل شی اونه هم د میشتو مهاجرو له خوا اجتماعی واټن دځا ی دتنګوالی له امله نه تر سره کیږي نو دهمدی بدو شرایطو په نتیجه کی ددی ناروغی شیوع د کډوالو په مینځ کي ډیر زیات دي .
دبلی خواڅخه دملګرو ملتونودکډوالو دلوی کمیشنری اداری (UNHCR) په وینا سره په نړی کي له ا فغا نستا ن څځه (2,5) ملیونه راجسترشوی کډوال دی چي دا د نړی دبی ځایوشویو خلکو دوهمه لوی نفوس تشکیلوی.تردی دمه د اروپایی اتحادیی دډیرو هیوادونو رسمی پالیسي ( بریتانیا هم شامله ده ) داده چي دغه هیوادونه افغانی کډووال په زور اوجبرسره بیرته افغا نستا ن ته استوی اودهیوادونو په طبقه بندي کی داسی انګیری چي افغانستان کی (بشپړ امنیت او مصونیت) دی ، حال داچي اروپایی اتحادیی دبربنډ شوو مستند اسنادوڅخه په ډاګه شوی چي افغانی ګدوالو ته دهغه بیرته ستنید ل دخطر سره مل دی اودا خبره ټولو ته څرګند دي لکه هغسی چي په کا ل (2018) کي ( یوناما) په دغه هیواد کي دملکی خلکود تلفاتو اندازه (11000) راپور

راکړی چی په دی تلفاتو کی (3804) مړینی او (7189) ټپیان شامل دي ، په یادکی باید وساتل شی چی د افغانستان حکومت داروپایی اتحا دیی سره د ډار له مخی چی مبادا اروپایی هیوادونه خپل مرستی افغانستان ته بندی نکړی دا منلی دی چي افغا نی کډوال د ی بیرته ا فغا نستا ن را واستوی . دا اونی کوم چي د کډوالو اویا دمها جرینو سره دهمبستګی اود پیوستون د ملی کړنه یا دعمل اونی دي نو په همدی اونی کي بریتانیا د کډوالو په ضد د خپل سخت سیاست په پیروی اود خشونت څخه په ډکه دښمنی سره داسی پریکړه کړي دی کوم چي د دی هیواد د داخلی وزارت وزیر ښاغلي پرتي پټال (Preti Patel) انګلستان ته دکډوالودراتګ د مخی نیوی په اړه وړاندیز کړي اوهغه داچي هغه ویلی چي مونږ بی سند اوغیر قانونی مهاجر د اسشن ټاپو( Ascension Island ) څخه دتیرډو په مهال یا د ناپاکو بندرونو دکانال په اوږدو کی دسمندری امواجو په رامینځته کیدو سره دهغو دراتګ مخه به ونیسو یعنی چي دمهاجرو دبیړی په مخه په مصنوعی شکل سره په سمندر کی لوی امواج را مینځته کوو چی دهغو دبیړی د تیریدو مخه ونیسی یعنی چی بیړی په سمندری امواجو کي غرق شی - په داسی حا ل کي چي انګلیس په کال (2001) دا فغا نستا ن د جنګ جګړي پر ضد کره قول او

تعهد ورکړي وه اما اوس له خپل قول او قرار څخه ځان
را باسي او افغانی کډوال دلویو حیا تی ستونزو اوخطرونو
سره مخامخ کوی نو په پای کی دی پایلی ته رسیږو چی
انګلستان باید له خپل دغه کوتاه نظری څخه لاس پرسر
شي او خسا ره مند شوی کډوالو ته جبران خساره ورکړي
**یادونه** :مایا ایونیز یعنی ددی مقالی لیکونکی دتحلیقی عدم
تشدد لپاره غږونه همغږی کوی (www.Vcnv or UK)
------------- **په درناوی** (16-10-2020)